scottish refugee council

# ستاسي د پناه غوښتني ملاتړ ته په تاسي پوري د تړلي بالغ شخص اضافه کول

Pashto

جنوري 2010

که چيري تاسي اوس وخت د کورنيو چارو له وزارت (د بريتانيي د سرحدونو اداري) څخه د پناه غوښتني ملاتړ (پخوا د NASS په نامه يادېده) ترلاسه کوئ، او ستاسي خاوند، ميرمن يا د ژوند ملګری له تاسي سره په سکاټلنډ کي يو ځای شوی دی، کيدای شي چي په تاسي پوري د تړلي بالغ شخص په توګه هغه ملاتړ ته چي تاسو يي ترلاسه کوئ، اضافه کړئ.

په ياد ولرئ چي ستاسي ملاتړ ته په تاسي پوري تړلي او بالغ شخص اضافه کول دا معنی **نه** لري چي هغوی ستاسي د پناه غوښتني دوسيي ته اضافه شوي دي. موږ تاسي ته مشوره درکوو چي په دي اړه هر وخت له خپل قانوني استازي سره خبري وکړئ، ځکه چي د کورنۍ په حالاتو کي بدلون **کيدای شي** ستاسي د کډوالتوب يا مهاجرت په دوسيه باندي اغيزه ولري.

دا پاڼکی دا په ګوته کوي چي کوم کيدای شي په تاسي پوري تړلي او بالغ شخص په توګه هغه ملاتړ ته چي تاسي يي د کورنيو چارو له وزارت څخه ترلاسه کوئ، اضافه کړی شي، ستاسي د غوښتني په ملاتړ کي کومو اسنادو ته اړتيا ده او دا چي موږ څنګه کولای شو له تاسي سره مرسته وکړو.

## څوک ستاسي ملاتړ ته د يوه بالغ او په تاسي پوري تړلي شخص په توګه اضافه کيدلی شي؟

که چيري تاسي دا کوشش کوئ چي يو بالغ او په تاسي پوري تړلی شخص خپل د پناه غوښتني ملاتړ ته اضافه کړئ، د کورنيو چارو وزارت **بايد** چي هغوی وپيژني. که چيري هغوی د کورنيو چارو له وزارت سره په تماس کي نه وي، او يا هم کله يي په بريتانيه کي پناه غوښتنه نه وي کړي، د هر ډول اقدام نه مخکي بايد له خپل قانوني استازي سره خبري وکړئ.

د دي لپاره چي هغه ملاتړ ته اضافه شئ کوم چي د کورنيو چارو د وزارت لخوا تاسو ترلاسه کوئ، ستاسي د ژوند ملګري بايد يو له لاندي شرايطو څخه ولري. هغوی بايد:

- له تاسي سره واده کړی وي؛ **يا**
- د ناواده شوي ملګرو په توګه په بريتانيه کي د تيرو دريو کلونو څخه ړتر ړد دوو کلونو لپاره له تاسي سره يو ځای ژوند کړی وي؛ **يا**
- مخکي له هغه چي ستاسي د پناه غوښتني درخواست رد شي په تاسي پوري اړوند وه.

## کوم اسناد زه بايد وښايم چي خپل د ژوند ملګری د يوه متکي کس په توګه اضافه کړم؟

د دي لپاره چي يو بالغ او په تاسي پوري تړلی شخص ستاسي د ملاتړ ته اضافه شي، تاسي بايد د کورنيو چارو وزارت ته ليکل شوي درخواست، چي ستاسي او ستاسي د ملګري لخوا لاسليک شوي وي، ورکړئ. تاسي بايد همدا رنګه د خپلو اړيکو او خپلوي په اړه شواهد وړاندي کړئ. د منلو وړ شواهدو کي دا لاندي شامل دي:

- ستاسي نکاحنامه
- ستاسي د ماشوم د زوکړي سند، چي ستاسي ميرمن، خاوند يا د ژوند ملګري د مور/پلار په حيث څرګندوي

که چیرې تاسي واده نه وي کړی یا د خپل واده نکاحنامه نه لرئ یا د خپل ماشوم د زوکړي سند درسره نشته، تاسي کولای شي یو له لاندي اسنادو څخه وښایي:

- مستند لیکل شوي شواهد چي تاسي له کورنیو چارو وزارت سره د خپلي مرکي په جریان کي یا د پناه غوښتني د ملاتړ په غوښتنلیک کي هغه د خپل ژوند ملګری ښودلی دی
- لیکونه یا د ژوند د ضروریاتو بلونه چي ستاسي دواړو نومونه په یوه آدرس کي څرګندوي
- د پناه غوښتني لپاره ستاسي د تازه درخواست نقلونه یا یو پخوانی پوښتنلیک چي د اړوندو کسانو تفصیلات ولري او ستاسي د اړیکو تصدیق کوي

**موږ څنګه کولای شو مرسته وکړو؟**

موږ کولای شو له تاسي او ستاسي د ژوند ملګري سره د کورنیو چارو وزارت ته د لومړني لیکل شوي درخواست په بشپړولو کي مرسته وکړو. مهرباني وکړئ او په یاد ولرئ چي دا زموږ کړنلاره ده چي د درخواست له سپارلو مخکي له تاسي او ستاسي د ژوند له ملګري سره په جلا جلا توګه خبري وکړو.

کیدای شي څو اونۍ وخت ونیسي تر څو د کورنیو چارو وزارت ستاسو درخواست وڅیري. د کورنیو چارو وزارت به په مستقیم ډول تاسي ته د خپلي پریکړي په اړه خبر درکړي. که چیرې له څلورو اونیو وروسته بیا هم تاسي د کورنیو چارو د وزارت لخوا هیڅ ډول ځواب نه وي ترلاسه کړئ، مهرباني وکړئ او له موږ سره اړیکي ونیسئ.

که چیرې تاسي غواړئ چي خپل د اړیکو تفصیلات نوي کړئ یا په خپل وضعیت کي د بدلونونو په اړه موږ ته خبر راکړئ، تاسي کولای شئ زموږ **وړیا ټیلیفون: 0800 085 6087** ته زنګ ووهئ او په وظیفه باندي موجود کارکوونکي سره خبري وکړئ. په یاد ولرئ چي زموږ له وړیا ټیلیفون سره یوازي د لیني ټیلیفونونو له لاري اړیکي نیولی شئ.

**که زما درخواست رد شي نو څه پیښیږي؟**

که چیرې ستاسي درخواست رد شي، موږ کیدای شي له تاسي سره مرسته وکړو چي یوې خپلواکي اداري ته چي د پناه غوښتني د ملاتړ محکمه (AST) نومیږي، د بیا کتني درخواست ورکړو. ستاسي د اپیل یا بیاکتني تفصیلات به په هغو دلایلو پوري اړه لري چي د کورنیو چارو وزارت د ملاتړ د رد کیدلو په اړه ورآندي کوي.

که چیرې تاسي غواړئ چي خپله دوسیه په خپله حضوري محکمي ته وړاندي کړئ، تاسي کولای شئ چي په لندن کي د بیا کتني په غونډه کي ګډون وکړئ. که چیرې تاسي له مخکي د کورنیو چارو وزارت ته وواياست چي تاسو د ګډون هیله لرئ، هغوی کیدای شي ستاسي د سفر لګښت ورکړي.